ورځپانه
وطن

د تاسيس کال ۱۳۲۸ لمريز

سه شنبه دلړم ۲۰ مه ۱۳۹۹ ل کال ● دربيع الاول ۲۴ مه ۱٤٤۲ ق ● د نومبر ۱۰ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۹ ● پرله پسې ۴۹۶۵ مه ګڼه

## افغان ولس له جګړو ستړی دی طالبان او حکومت باید اوربند وکړي

د پکتيا، پکتيکا، خوست او لوګر ولايتونو يو شمېر قومي مخورو د جرګې له لارې په افغانستان کې روانه جګـړه غندلې او زياته کړې يې ده ،چې نور دا جګړه په هېڅ صورت ورته د منلو نه ده. دوی د خپلو سيمو له قومي مخورو غوښـتنه کړې، چې بايد سره يو لاس شي او په هېواد کـې رواني اوږدې خونړۍ جګړې ته په نه ويلـو سره دواړه لوري د ناخوالو پای ته رسـولو ته وهڅوي.يادو قومي مخـورو دغه راز پر افغان حکومت او طالبانـو غږ کړي ،چې پلمې دې نه کوي او هر څه ژر دې په هېواد کې پر يو سراسري اوربند هوکړه وکړي.د يادوني ده ،چې په دوحه کې د افغان او طالب پلاوو ترمنځ د خبرو له پيل وړاندې عامو افغانانو پر اوربند ټينګار درلود ،خو طالب لوري دا غوښتنه تر دې دمه نه ده منلې. افغان حکومت هم د سولې له خبرو وړاندې اوربند اړين بللی.

## (( په افغانستان کې د کرونا له امله مړينه کمه وه ))



Ketabton.com

۲مخ

## امرالله صالح :
## شواهد ښيي چې پر کابل پوهنتون وروستی ترهګريز بريد طالبانو کړی



## افغان حکومت د امريکا له نوي حکومته وغوښتل چې د سولې په بهير بيا کتنه وکړي

د ولسـمشر غني دويم مرستيال سرور دانش دجـو بايـډن پـه مـشرۍ د امريکا لـه نوي جوړېدونکي حکومته وغوښـتل، چې طالبانو سره پر پرېکړو او سـولې بهير باندې بيا کتنه او ارزونه وکـړي او د افغانانو ترمنځ خبرې ژر پيل شي.سرور دانش وويل : سره له دې چې قطر کې نږدې دوه مياشتې وړاندې د سولې خـبرې پيل شـوي، خو دغو خـبرو کې هېڅ پرمختګ نه دی شـوی او جګړه لا پسې زياته

پیام هیواد

سه شنبه دلړم ۲۰مه ۱۳۹۹ل کال • د ربیع الاول ۲۴مه ۱۴۴۲ق • د نومبر ۱۰مه ۲۰۲۰ کال • خصوصي ګڼه ۱۷۹ • پرله‌پسې ۴۹۶۵مه ګڼه

## سرلیکنه

# د امریکا له نوي حکومته د څه تمه کېدای شي؟

د امریکا ولسمشریزو ټاکنو له ګټونکي جوبایډن څخه د امریکا د ملت او نورو هېوادونو هیلې ډېرې دي، دا هیلې هله مړاوې شوې، چې پخواني ولسمشر ټرمپ له نړۍ سره پر خپله پالیسۍ له سره کتنه وکړه، د بېلګې په توګه له اروپایي ټولنې سره اړیکې سستې شوې، د ناټو ټلوالې او دغه راز روغتیا نړیوال سازمان لپاره بودیجه یا کمه شوه او یا هم پرې په چرلټه توګه بنده شوه. له چین سره هم سوداګریزه جګړه پیل شوه، د منځنۍ اسیا او منځني ختیځ لپاره هم پالیسي بدله شوه، په همدې توګه د ترهګرۍ پرضد داسې مبارزه ونه شوه، چې له امریکا یې تمه کېده، برعکس د ترهګرۍ ملاتړي هېوادونه لا پسې سره یو موټی شول او په ښکاره یې د ترهګرۍ ملاتړ ته زور ورکړ. د بېلګې په توګه روسیه یادوو، چې د امریکا یوازېنۍ ستره دښمنه او رقیبه ده، همدا شان ایران هم پر ورته اقدام لاس پورې کړ، له ایران سره خو آن د روان کال په پیل کې شخړې ته لاس واچول شو او د جنورۍ په میاشت کې د ایران د لښکر مشر قاسم سلېماني په عراق کې ووژل شو، امریکا وېیل، چې سلېماني په افغانستان، عراق، سوریه او سیمه کې امریکایان وژلي، ایران هم په عراق کې د امریکا اډې په نښه کړې. دلته د افغانستان په ګاونډ کې هم د ترهګرۍ عمده مراکز په نښه نه شول، هغه ترهګري، چې اوس یې د افغانستان په شمول د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ګواښ را مخ کې کړی دی. برعکس طالبانو ته فرصت ورکړل شو، چې ځان په سیاسي او پوځي ډګرونو کې راڅرګند کړي، د دې لپاره د امریکا پخوانۍ ادارې له طالبانو سره رسمي تړون لاسلیک کړ، چې اوس پرې ټول پښېمانه دي، ځکه د هغه تړون پایلې خونړۍ او ناسمې دي، نړیوالې ټولنې ته هم د منلو ځکه نه دي، چې د دې ټولنې په سختو هڅو او پراخو مرستو د افغانستان لپاره جوړ شوي نظام په مخ کې یې خنډونه را پورته کړي دي.له همدې امله د امریکا له نوي ادارې هیلې ډېرې دي، د اروپایي ټولنې، د نړۍ روغتیایي سازمان په څېر نور هېوادونه او بنسټونه له دې ادارې تمه لري، چې خپله پالیسي داسې عیاره کړي، چې د ژوندانه لپاره مهم بنسټ وګرځي او د ترهګرۍ په شمول ټول اختلافونه او خطرونه له منځه یووړلی شي! په دې برخه کې افغانستان له امریکا ستره تمه لري، امریکا د افغانستان ستراتیژیکه، دفاعي او امنیتي ملګرې ده، د امریکا د ولسمشر په توګه د ډیموکرات کاندید جوبایډن د انتخابېدو په اړه د افغان ولسمشر اشرف غني د مبارکۍ پیغام او له واشنګټن سره یې د راتلونکو اړیکو په اړه څرګندونې هم ددې غوښتنې پر بنسټ دي. اشرف غني د یکشنبې په ورځ په خپل ټوېټر په یوه پیغام کې لیکلي، تمه کوي چې د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکې به د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او د سولې د ټینګېدو په برخو کې لا پراخې شي. غني همدا شان ویلي چې له خپل اساسي شریک، امریکا سره د هر اړخیز ستراتېژیک شراکت لا پیاوړي کېدو ته سترګې په لاره دي. عام افغانان هم له بایډن څخه ورته تمه لري، ځکه امریکا د پخواني ولسمشر ټرمپ د پالیسۍ له مخې، افغانستان ته شا کړې وه او طالبانو او ترهګریزو ډلو او د هغوی ملاتړیو هېوادونو ته یې داسې پیغام ورکړی و، چې ګنې جګړې ته زور ورکړي او هغوی له افغانستانه خپل ځواکونه باسي. همدا ده، چې په افغانستان کې د سولې پر ځای جګړه توده شوې او پراخ زیانونه یې اړولي دي. افغان ولس د امریکا د هغه دریځ سخته غندنه کوي او له اوسنۍ ادارې تمه لري، چې افغانستان ته په مسوولانه توګه خپله پالیسي جوړه کړي. داسې پالیسي، چې له مخې یې په خوندي توګه د امریکایي عکسرو د وتلو لپاره فرصتونه رامنځته کړي. البته افغان ولس د جګړې غوښتونکی نه دی، خو دا جګړه هم باید په مسوولانه توګه ختمه کړای شي، د دې لپاره تر ټولو غوره دا ده، چې لومړی د ترهګرۍ عمده ځالې او مراکز په نښه کړای شي، دا د جګړې فشار کموي او په افغانستان کې د سولې لپاره فشار راوړي! افغانان همدا رنګه په اوسني وخت کې یا په غیر مسوولانه توګه له افغانستانه د ځواکونو ایستل، د حل لاره نه بولي، بلکې عملاً یې دا تجربه کړې، چې دا چاره ستونزې لا پسې زیږوي او د افغانستان ثبات، امنیت او اهمیت نور هم ګواښي، دا ګواښ په اصل کې امریکا ته هم متوجې دی، نو امریکا باید داسې ګام پورته کړي، چې دا ګډ ګواښ له منځه یوسي.



## د چارو سمون د حکومت ستر لومړیتوب دی!

**تمیم**

په دې وروسـتیو کې افغانستان یرغلونو او هدفي وژنو سـخت ځپلی دی، دا تر کرونا وروسـته هغـه ننګونه ده، چـې ملت یې سخت اندېښـمن کړی دی. ملت تمه لرله، چې سږ کال به روان بحران ختم شي، ځکه امریکا په ډېر فشـار د سولې لپاره فرصت رامنځتـه کړ او د جګـړې د مخنیوي لپاره یې په سـیمه ییزه او نړیوالـه کچه هڅې وکـړې، طالبـان یې هـم د یوه تـړون پر بنسـټ په قطر کې سره راټـول او د افغان حکومـت له مرکچي پلاوي سره مخ کړل، خـو د دغه تړون له مخـې امریکا طالبانو ته په سـتر اهمیت قایله شـوه، چې آن په نړیواله توګه را څرګند شـول. طالبانو ته دا ښـه فرصت و، ځکه له امریکا سره یې په قطر کې د فـبرورۍ په ۲۹مه تړون کې اوربند وکړ او بیا یې ښـه په بېخ هم عملي کـړ، په دې موده کې نـه امریکا او نه هم طالبانو یو پر بـل کار لاره. د دې ترڅنګ د دغه تړون له مخې امریکا او مدني ټولنې پر افغـان حکومت فشـار راووړ، چې د طالبانو پنځه زره زندانیان هم خوشي کړي. هغه زندانیان چې نړیوالې ټولنې یې خوشي کول، د افغان حکومت لپاره سـخت خطر باله، همداسې هم وشول، افغان حکومت د امریکا او طالبانو د تړون له مخې د فشـار او غوښتنو پر بنسټ له پنځه نیم زرو ډېر د هغوی زندانیان ورخوشي کړل، دا زندانیان ډېر خطرناک او په سختۍ سره نیول شوي وو، خو ضمانت یې نه امریکا ورکړ او نه هم طالبانو، هېـڅ یوه هېواد هم نه، هغوی چې د طالبانو مـالي او پوځي ملاتړ کوي، هم دا ضمانت ورنه کـړ. بل لوری طالبانو په پراختیایي پروژو کې ونډه تر لاسه کړه، ښه غوښـنه ونډه، همدا راز هغوی د لویو لارو پر سر او په کلیو او بانډو کې اخازیو او د پیسو اخیسـتلو لړۍ ته زور ورکړ. د کرونا په نامه مرسته شـوي اوړه او نورې مرسـتې هم هغوی تر لاسه او په خپلو کې سره ووېشلې. دې او دې ته ورته نورو چارو په افغانسـتان کې جګړه نـوره هم پراخه کړه، طالبانو ته داسـې پیغام ورکړل شـو، چې ګنې امریکا له افغانستانه وزي، هغوی د سـولې پر ځای جګړو تـه زور ورکړ، پـه بېغمه توګه یـې بریدونه پـلان کړل، ځکه لـه امریکا سره یـې اوربند کړی و. پایلـه دا شـوه، چـې هغـوی آن کابل هم وننګوي او همهاله په لویو او وړو ښارونو کې بریدونه وکړي، د هغوی په لیکو کې د پاکسـتان ملېشې هم برخه لري، دا اوس په کور د ننه او نړیواله کچه ستره اندېښنه ده، دښـمن په ډېر مهارت سره د سولې د هڅو ناکامولو تر څنګ د روان وضعیت پړه پر حکومت ور اچوي، خلکو ته اوس داسې وېـیل کېږي، چې ګنـې د روان وضعیت مسـوولیت د افغان حکومت پر غاړه دی، حال دا چې افغـان حکومت د طالبانو هر یرغل پر شـا تمبولی او د مجرمینو له منځه وړلو تر څنګ یې د القاعده ستر کسان هم وژلي دي! خـو بیا هم حکومـت ته ګوته نیـول شـوې، امریکایي رسـنیو هم دغه بریدونو ته اشـاره کړې ده، نیویارک ټایمز ورځپاڼې په کابل کـې د حملو زیاتوالي ته په اشارې سره لیکلي چې ډېر خلک د دغو حملو پـړه پر حکومت اچـوي. ورځپاڼه د پیل په کرښـو کې لیکـي، دغه حملې نه یـوازې دا چـې د دې ښـکارندویي کوي چې دغـه ښـار د حملو له زیاتـوالي سره مـخ دی، بلکې هغه پـر افغان حکومت د خلکـو د مخ پـه زیاتېدونکـي نارضایتي څرګندونـې هم کوي چـې د دوی پر وینا نه‌شي کولای د خپلو خلکو سـاتنه وکړي. د نیویـارک ټایمز په لیکنـه په کابل کې په یوه اوونۍ کې د دغو حملو په ترڅ کې یو پخواني وتلی ژورنالېست، د یوې ښاروالۍ پلار او د کابل پوهنتون لسګونو محصلانو ته مرګ ژوبله د دې سـترې بېلګې یادوي. ولـسي جرګې هـم امنیتـي مسـوولین و وغوښتل، خو اندېښنه لا پر ځای ده، لا هم خلک د پړې ګوته حکومت او مسوولینو ته نیسي، دا د دښـمن بل تکتیک دی، چې خپل ناوړه او کرغېـړن پلونه پټ کړي او د خلکو پام بلې خوا ته واړوي، دا په اصل کې د افغان حکومـت د بدنامولو لپاره تر ټولـو بده هڅـه ده. وړاندیـز دا دی، چې افغـان حکومت د چارو د سـمون لپاره په ټـول وس هڅې وکړي، هغـه لارې چارې وټړي، چـې ترهګري پیـاوړې کوي او د جګړې د دوام لامل ګرځي، لکه د اخازیو مخنیـوی او په پـروژو کـې د طالبانو او ترهګریـزو ډلو د ونډې بندول او یا هم له مخدرو موادو او کانونو د هغوی مالي ګټو بندول. د دې ترڅنګ په چارو کې جدیت او د ترهګرۍ او ورپکـۍ عمده مراکزو په نښـه کول. همدا رنګه پـه چارو کې د بـډو او فسـاد مخنیوی او له هر مسـوول کـس څخـه د حسـاب کتاب اخیسـتل! د سـولې پـر روان بهیر لـه سره کتنه او د ترهګـرۍ او اورپکـۍ د تمویـل، ملاتړ او اکـمال منابعـو په ګوته کـول. یعنې د ترهګرۍ پر ضد داسـې مبارزه چې په لړ کې یې سـوله یقیني کـړای شي، د دې لپاره له پاکستان سره د سـولې مذاکره پیلول او پر پاکسـتان د فشـار راوړلو بېلابېلو لارو چـارو تعقیبـول، چې د افغانسـتان پرضد مخامخ جګړه بنده او ورسره سـوله وشي!

## په افغانستان کې د کرونا له امله مړینه کمه . . .

ولسـمشر محمـد اشرف غني وایـي، چې د حکومـت د بېلابېلو اقداماتو په نتیجه کې د کورونا له امله د نورو هېوادونو په پرتله په افغانستان کې د مړینې کچه نسبتاً ټیټه وه.ولسمشر غني دا خبرې د پاریس د سولې مجمع ته په وار دمخه ثبت کړي وېډیویي پیغام کې کړې دي.محمد اشرف غني د پاریس د سولې مجمع ته په وېډیویي پیغام کې ویلي: (( زموږ د چټک غبرګون او د ډول ډول اقداماتو په پایلـه کې د کورونا ویروس له امله د مړینو کچه د نورو هېوادونو په پرتله په افغانسـتان کې نسـبتاً ټیټه وه. خوشبختانه د دې وبا په مرکز باندې بدل نه‌شوو.))محمد اشرف غني په دغه وېډیویي پیغام کې د خپلې ادارې له‌خوا د کورونا ویروس د مدیریت لپاره د پلي شـویو تګلارو یادونه کړې او ویې‌ویل، چې خلکو ته په بېلابېلو ولایتونو کې وچه ډوډۍ ووېشـل شوه او په لنډ مهالو پروژو سره کارونه پیدا شول.د پاریس د سولې مجمع سږکال د نومبر له ۱۱مې تر جمعې ترسره کېږي. دا وار په دې مجمع کې نړیوالې ننګونې په سر کې د کورونا ویروس په اړه بحث کېږي.جمهوررییس غني د پاریس د سـولې مجمع ته په استولي وېډیویي پیغام کې د کورونا له امله په نړیواله کچه رامنځته شـویو ګډوډیو ته اشاره وکړه او ټینګار یې وکړ ،چې دې وبا ټولو ته وښـوده چې باید د ناورینونو په مدیریت کې اغېزمنې او کارنده تګلارې تر لاس لاندې ولرو.ده زیاته کړه: (( (کووېډ-۱۹) وبا د پېړۍ یوه له نادرو سختو پېښو ده. زمـوږ دا له یو بل سره تړلې نړۍ یې په ګډوډۍ، ابهام او بې‌مخینې خطـر کې غوټه کړه. زموږ په سیسـتمونو او عادي حالتونو کې د زیان منني او نیمګړتیاوو برخې رابرسـېره کړې. ژوند او روزګار یې وران کړ په تېره بیـا د بېوزلو او محرومو خلکو.))د پاریس د سـولې مجمع داسـې وخت د کورونا وبا له امله په رامنځته شویو ننګونو بحثونه جوړوي چې اروپا او ګڼ نور هېوادونه د کرونا له دوهمې څپې سره مخ دي.اکـثرو اروپایي هېوادونو ټولبندونه پلې کړې او په اوسط ډول راپور کېدونکې مثبتې پېښې د اندېښنې وړ بلل شـوي. په ټوله نړۍ کې د نومبر تـر اتمې په کورونا ویروس د اخته خلکو شـمېر له ۵۰ میلیونو کسانو پورته تللې چې له ډلې یې څه باندې ۱۲ نیم لکه کسان مړه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بایډن په اداره کې به بهرنۍ تګلاره د چا په لاس کې وي؟

د بایډن پـه اداره کې به بهرنۍ تـګلاره په ډېر احتـمال د اوباما د وخـت د خلکو په لاس کې وي.

جوبایډن د بارک اوباما مرسـتیال پاتې شـوی او د یـوه با تجربه سـناتور په توګـه یې کلونه د امریـکا د سـنا جرګـې د بهرنیو اړیکـو کمېټه هـم اداره کړې.منتخب ولسـمشر جوبایډن او منتخب مرسـتیال ولسـمشره کامـلا هریس د داسې ادارې د رامنځته کولو ژمنې کړې چې د دوی په خبره پـه نړیواله کچه به د امریکا ځای احیـا کړي او درنـاوي به یې وشي.مرسـتیالې ولسـمشرې کاملا هریس د شـنبې په شـپه تر بریا وروسـته په لومړنۍ وینا کـې وویل: ((موږ داسې یو ولسـمشر انتخاب کړ چې زموږ د ښو استازي به وي، یو داسې رهبر چې نړۍ به ورته درناوي وکړي او ماشـومان به مو ورته ګوري، یو داسـې اعلي سرقومندان چې زموږ د عسـکرو درناوي به کوي او زموږ هېواد به خوندي سـاتي د ټولـو امریکایانو لپاره یو ولسـمشر.))منتخب ولسـمشر جوبایډن هم تر کاملا وروسته خبرې وکړې او ویې ویل چې امریکا به د ټولو لپاره یوه بېلګه وي.جوبایډن وویـل: (( ټوله نړۍ امریکا ته ګوري. زه باوري یـم چې زموږ غوره امریکا د نـړۍ لپاره یو الهـام ده.))جوبایډن به د هر بل منتخب ولسـمشر په توګه د شاوخوا څلورو زرو مهمو څوکیـو لپاره کسـان ګماري.په دې کې د بهرنـۍ تګلارې مهمې مختـه وړونکې ادارې لکـه د بهرنیو چـارو وزارت، دفاع وزارت، د ملي امنیت سـلاکاري او سي اي اې د اسـتخباراتو مرکـزي ادارې پـه لومړیتوب کـې دي.که څه هم بایـډن او همکارانو یې ژمنه کړې چې ګڼې مهمـې څوکۍ به هغو کسـانو ته ورکوي چې د اوبامـا په اداره کـې د کار تجربه لري،خو دا په همدې اسـانۍ د اوبامـا د تدوام پـه معني نه دي.د منتخب ولسـمشر جوبایډن په اداره کې به د روسـیې، چین، ایران او ناټو تګلارې په بله بڼه مخته وړل کېږي.خبرې اوس په کومو کومو کسـانو ډېرې څرخي چې ښایي د جوبایډن په اداره کـې به د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، ملي امنیت سـلاکاري او سي اي اې د مشرۍ لپـاره غوره شي؟په اول سر کـې د بهرنیو چارو وزارت راځـي.د ولسـمشر ټرمپ پـه اداره کې لومړي د ایکسـون موبیل د تېلو د کمپنۍ مشر ریکـس تیلرسـون تـه دا څوکۍ ورکړل شـوې چې تر شـاوخوا یـوه کال وروسـته د ټرمپ له حکومتولـۍ سره د مخالفـت په خاطر ګوښـه کړای شو.ورپسـې مایک پومپیو چې هغه وخت د سي اي اې مـشر و د بهرنیو چارو وزیر شـو.د منتخب ولسـمشر جوبایډن په اداره کې د دې څوکۍ لپاره د دوو اوسنیو ډیموکراټ سناتورانو

نومونه تر بل هر چا زیات مخته کېږي کریستوفر کونـس او کریـس مورفي.کریس کونـس تېره میاشـت د بهرنیو چارو په مجلـه کې یوه اوږده مقالـه پـه دې عنوان خپـره کړه چې یـوه دوه ګوندیزه بهرنۍ پالیسي لا هم ممکنه ده.په دې سره یې ځان داسـې یو کس وښـود چې حاضر دي لـه جمهـوري غوښـتونکو سره کار وکړي. دویـم کس کریـس مورفي دي چې د روسـیې پر ضد یې سـختې خبرې کـړې او د اوکراین او نـورو ختیځو اروپایي هېوادونو ملاتړ یې څرګند کړي.سـتونزه دلتـه ده چې که یـو ډیموکراټ سـناتور د بهرنیو چارو وزارت ته راځي نو په سنا جرګه کې به د ډموکراټانو ځای کمزوري کېږي. پـه ځینو نـورو خلکو هم خـبرې څرخېږي لکه انتـوني بلینکین چې د اوباما پـه اداره کې یې د ملي امنیت سلاکاري مخته وړله او په ۱۹۹۰ کلونو کې یې هم له ولسـمشر بل کلینټن سره د مـلي امنیـت په شـورا کې کار کـړی دی.د منتخب ولسـمشر جوبایډن په اداره کې د بلې مهمې څوکۍ دفـاع وزارت پنټاګون لپاره د چا چا نومونه ډېر یادېږي؟تېر دور کې ولسـمشرانو دا څوکۍ د دې لپـاره چې نورو ګوندونو ته یې هم واک ورکړي وي د بل ګوند غړي ته ورکړې. ویلیم کوهن، رابرټ ګېټس، چک هیګل ټول له جمهوري غوښتونکي ګونده و چې د ډموکراټانو په ولسـمشرۍ کې یې دفاع وزارت مخته ووړ.د ټرمـپ دورې د دفاع وزیـر جیم متیس هم هغه وخت خپلواکه یادېده که څه هم وروسته یې له ټرمپ سره جوړه رانغله او په ښـکاره یې د بایډن ملاتړ کاوه.د اوس لپاره تر نورو زیات د میشـل فلورنوي نوم یادېږي چـې د اوباما په اداره کې یې د دفاع وزارت دوه بېلابېلې مرستیالۍ مخته وړې دي.که میشـل د دفاع وزیره شي لومړنۍ ښـځه به وي چې دې څوکۍ ته رسېږي.میشل فلورنوي تېر اګسـت په یوه بحـث کې ویلي وو چـې امریـکا باید د زیـات په نـوې ټکنالوژۍ پانګونه وکړي څو پر مټ یې د روسـیې او چین کلکه مخه ونیـول شي.هغه زیاتـوي: (( موږ د سوق ادارې داسـې یو سیسټم ته اړتیا لرو چې د زیرک هوش ارتیفیشـال انتلجنس په واسطه مختـه ځي څو پـه رقابتي شرایطو کـې مقابله ممکنه کړي، موږ باید داسـې سیسټم رامنځته کړو چې د انسـاني ځواک تر څنـګ اتومات یا بې انسـانه سیسټم چې د انسـانانو په واسطه کنټـرول شي په ډېـره لوړه کچه زمـوږ د ګټو د دفـاع یا هـم هغو وختونـو کې چې زمـوږ کوم متحد له ګواښ سره مخ وي زموږ د زور د کارولو توان په ډراماټیکه کچه ښـه کړي.))د منتخب ولسمشر د ملي امنیت سلاکار به څوک وي؟دا

څوکـۍ چـې د سـړې جګـړې په پیـل کې د جمهوري ریاسـت د بهرني، اقتصادي، دفاعي او استخباراتي مسایلو د همغږۍ لپاره رامنځته شـوې هغه وخت یې زیات ارزښـت وموند چې په ۱۹۷۰ کلونو کې د ولسـمشر ریچارد نکسن په اداره کې د هنري کسـنجر له خوا مخته وړل کېده.لکه څنګه چې ولسـمشر ټرمـپ په نورو مهمو ادارو کې هم زیات ادلون بدلون راووست د ملي امنیت سلاکاري هم په څلورو کلونو کې څلورو بېلابېلو کسـانو ته ورکړل شوه. اوباما بیا د ملي امنیت سلاکاري درېیو کسانو ته ورکړې وه.یوه په کې وه چـې ډېر کلونه په دې څوکۍ پاتې شوه او اوس ښکاري چې د بایډن په اداره کې یې د بیا راستنېدو چانس زیات دي.مېرمن رآیس چې په ملګرو ملتونو کې د امریکا سـفیره هم پاتې شـوې،یوه تېز ژبې او په واشنګټن کې د بین الاداري یوه سرسـخته مبارزه بلل کېږي. انتـوني بلینکن چې د بهرنیو چارو وزارت ته هم پرې خبرې کېـږي د مېرمن رایس پر وړاندې د ملي امنیت سـلاکاري ته یو سـیال بلل شوي. پـه ملګـرو ملتونو کې به د امریکا سـفیر څوک وي؟په حقیقـت کې دا د کابینـې په کچه یوه مهمـه څوکۍ ده چـې په ملګـرو ملتونو کې د امریکا د اکثرو مسـئلو په تـړاو د لابي ګرۍ په خاطـر کارول کېږي.پـه ۲۰۰۳ کال کې دا د امریکا سـفیر جـان نیګروپونتـې و چې له دې څوکۍ په استفادې یې په عراق د امریکا د برید دوسـیه جوړه کړه.په ملګرو ملتونو سازمان کې د اوباما ادارې د سـفیرې سـمنتا پاور نوم اوس بیا اخیسـتل کېږي.ګڼ ځارونکـي وایي، چې ښـایي د هاروارد پوهنتون اوسـنۍ پروفیسوره مېرمـن پاور چـې د بایډن د کمپایـن د بهرنۍ تګلارې سـلاکاره هم وه په ملګرو ملتونو کې د امریکا سـفیره شي.د سـوزان رایس نوم د دې څوکۍ لپاره هم یاد شوي.یوه بله مهمه څوکۍ د اسـتخباراتو مرکزي اداره سي اي اې ده.سي اي اې اوس د جینـا هاسـپل له خوا مخته وړل کېږي چې کلونه یې په دې اداره کې کار کړي او د اکثرو کارکوونکو ملاتړ لري.اکثر ډموکراټان له هاسپل سره د سـپټمبر ۱۱ ترهګریز برید را وروسـته د استنطاق په پالیسـیو نه دي جوړ.د (( د پوښـتنو ګروېږنو یا استنطاق دا پرمختللې لارې)) پـه نړیوالـه کچه نـه خو پـه لویه کچه ځورونکې یا د شـکنجې کاروونکې یاد شوي.د همدغو مسـئلو په خاطر ګڼ شـننونکي شـک لري چې ډیموکراټان به هاسـپل په دې څوکۍ وسـاتي.اوس وخت د سي اي اې د ادارې لپاره د اوریـل هاینس نوم د یوې غـوره کاندیدې په صفت یادېږي.اوریل د اوباما په اداره کې د سي اي اې مرستیاله وه.

# پر اکاډمیکو او فرهنګي مرکزونو برید ستر ملي خیانت دی

د اسلام دسپېڅلي دین په ټولو ارشاداتو او نصوصوکې داسې څه نشته چې یو انسان دې بل انسان او یو مسلمان دې بل مسلمان په ناروا توګه ووژني.

همدارنګه د ټولو فرهنګي ،اکاډمیکو اومدني ټولنو په آیین نامو طرزالعملونو اوکړنلاروکې بشرته چوپړ او دسوله پیرژوند لارې چارې ، سلم اوصفا کښل شوې اوعملي کېږي.

د پرمختللي ژوندانه دلارو چارو دلارویانوپه غوښتنو اوکارکړنو کې داسې ټکي نغښتي اوانځور شوي دی چې انسان ته خدمت اودهغه د وقار عزت او د آبرو ژغورنه او ورته درناوی دانساني عواطفو اوپاکو احساساتو څرګندیي کوي.

نو له همدې امله دافغانستان اساسي قانون چې د ۱۰۳ نمبرفرمان پربنسټ د ۱۳۸۲ لمریزکال د سلواغې میاشتې په شپږمه نېټه توشیح او ټولنې ته وړاندې شوی دی، په (۱-۲-۳-۴-۵-۶-۲۳-۲۴ او ۲۹مه ماده کې یې دانساني کرامت ساتل له تعذیب او تاوتریخوالي پرته ژوند کول د هروکړی حق دی او ژوند هم یو الهي ستر نعمت اوموهبت دی اوهمداسې تعریف شوی دی چې باید خوندي وی.

دغه راز دبشري حقونو په نړیواله اعلامیه کې چې د ۱۹۴۸ میلادي کال د دسامبر په ۱۰ مه نېټه اوهم د ملګرو ملتونو له بشري حقونو څخه ددفاع په اعلامیه کې چې دامنیت شورا اوهم دیونسکو اویونیسف او حتا د نړیوال روغتیایي سازمان په کاري طرزالعمل کې ورڅخه یاد شوی دی او دتهران په اعلامیه ۱۹۶۳ اود ۱۹۸۰ میلادي کال په نوامبر کې صادر شوي دي ، نو په دې بنسټ موضوعه قوانین اوکړنلارې د اسلام د مبین دین له اساساتو ، ارشاداتو اونصوصو سره سمون لري ، بشرته درناوي دي او په لوړه سترګه ورته کتل کېږي دانسان د ژوند یا د اتباعو د ژوند ساتل د دولتونو دنده ده .

په دې توګه که هرڅوک دانسان ژوند په ناحقه اخلي اوپه وړیا توګه یې سره، توده اوپاکه وینه تویوي، نو دا کار حرام دی، داسلامي اصولو




، بشري قوانینو ،عواطفو اولوړو احساساتواود بشرپالنې ضد عمل ګڼل کېږي باید هغه وترټل شي، منع شي او مخه یې ډب شي.

په هرصورت پرعلمي او پوهنیزو ټولنو ،اکاډمیکو مرکزونو او پر روزنیز کانون،مدني ټولنو اوفرهنګی بنسټونویرغل ، برید او چپاوونه او پرې ددښمنۍ له مخې ګواښ اوتاوتریخوالی له سره انساني عمل نه دی ، بلکې له وحشت اودهشته ډک عمل دی.

ترهګري په قوانینو کې پرټولنو اوپه انساني جامعو کې داصولو له مخې په یوډول نه یو ډول غندل شوي ، دقبول وړنه ده ، ملي خیانت شمېرل کېږي او دجزا وړده.

دافغانستان دجزا قانون له مخې دترهګرۍ، وحشت ،ګواښ ،تاوتریخوالي اوتعذیب منفي اونورې چارې دلویو جزاګانو په ډله کې شمېرل شوي اونړول او ویجاړول یې هم ستر ملي خیانت دی ،چې دغه ټول دسیمې د نیابتي جګړې یوه څنډه اوبرخه ده چې د افغان شریف ولس د وژلو له پاره د یوشمېر وګړو له بیسوادۍ څخه د وطن دښمنان ګټه اخلي اود افغان شریف ملت او ددغه کړېدلي ځوریدلي او ربړیدلي ولس پرووړاندې یې سرته رسوي، دمنلو وړ نه دی.

ښایي چې په پوره ځواک او پیاوړتیا سره یې دملي ویښو ځواکونو او انتظامي قوتونو دفکري اوعملي همغږۍ ( کوردیناسیون) له مخې ددغه سترناورین چې دکړکیچ زېږوونکي دي ، مخه یې ډب کړي، ولسونه اوپرګنې له دولت سره دي او وګړي له دولت څخه حمایت کوی، ځکه ټول خلک ، په دې اند دي اوباور لري چې پرعلمي،موسسو او نورو ټولنو د چپاومخه ونیسی ترڅو ملت او په تېره بیا ځوان نسل مو په سوکالۍ اوهوساینې کې زده کړې وکړي اوخپل مراسم پرځای کړي.

که هرڅوک اوهردښمن ددغه ملي خیانت مرتکب شي، باید په خپله سزا ورسېږي او دنورو له پاره باید د عبرت درس شي.

څه به ښه وای چې انسان وای مینه مینه
دخدای دا ښکلی جهان وای مینه مینه
کینه نه وای رخه نه وای جګړه نه وای
دلته هرکلی، مکان وای مینه مینه

عبدا لهادی قریشي

سه شنبه د لړم ۲۰مه ۱۳۹۹ ل کال ● دربیع الاول ۲۴مه ۱۴۴۲ ق ● دنومبر ۱۰مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۵ ● پرله پسې ۴۹۶۵مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ننګرهار کې سلګونه ماشومان په درنو کارونو بوخت دي


Hoshang Hashimi (AFP)

په ننګرهار کې سلګونه ماشومان چې د خپلې کورنۍ سرپرستي پرغاړه لري، پر درنو کارونو بوخت دي.۱۶کلن نور کريم هر سهار ښار ته د کار کولو لپاره په تګ او ماښام ستړی کور ته په راتګ مجبور دی. له ده څخه جګړې د پلار سيوری اخيستی او دوه کاله کېږي چې د کورنۍ سرپرستي پرغاړه لري.نور کريم چې په ښار کې کراچۍ چلوي او هره ورځ د مزدورۍ په انتظار وي، وايي چې ډېر کله تش لاس کور ته ستنېږي.هغه زياتوي: (( د رکشا کرايه مې هم نه کېږي، نه مې د کور کار پرې کېږي، مشر ورور مې نه شته، د ټولو مشر زه يم، دا مجبوري ده نو، خپله خواري کوو.)) نور کريم يوازې نه دی په دې ښار کې سلګونه نور داسې ماشومان شته چې بېوزلۍ اړ کړي تر څو سختو او درنو کارونو ته اوړه ورکړي او له زده کړې پاتې شي.د زده کړو ارمانجن ذبيح هغه ماشوم دی چې تمامه ورځ په ښار کې پلاستيکي کڅوړې پلوري او له دې لارې سل يا ۱۵۰ افغانۍ ګټي. هغه زياته کړه: (( ښار ته شپږنيمې بجې راوځم، پلاستيکونه ګرځوم، سل يا يونيم سل روپۍ پيدا کوم او ماښام بېرته کور ته ځم.))

د ماشومانو حقونو يو فعال سيدکمال انديښنه ښيي او زياتوي، د دې ماشومانو يوازې اوس له ستونزو ډک نه دي، بلکې هغه څه چې دوی اوس کوي د دوی او ټولنې پر راتلونکي ناوړې اغېزې لري.

د ده پر وينا: ((که چېرې دولت او د دغو


Jalalabad Municipality (Courtesy Image)

ماشومانو کورنۍ د دوی غم ونه کړي،نو د دوی راتلونکی به خراب وي، ځکه تاسې وګورئ، اکثره ځوانان لګيا دي او پوډر څکوي، دا ټول د بېکارۍ وجه ده.))

په همدې حال کې د ننګرهار د کار او ټولنيزو چارو رياست مسوولين وايي، په ننګرهار کې د تېر کال په پرتله پر درنو کارونو د بوختو ماشومانو شمېر زيات شوی چې لامل يې فقر، بېوزلي او د جګړو له امله بېځايه کېدل يادوي. د ننګرهار د کار او ټولنيز چارو رييس عبدالحکيم شېرزاد په ښار کې د کارګرو ماشومانو د کره شمېرې په اړه معالومات نه لري، خو وايي چې سلګونو هغو ماشومانو ته يې د کار زمينه برابره کړې چې پر سختو کارونو بوخت وو. شېرزاد وويل: (( په هرو شپږو مياشتو کې سل نفره ماشومان چې له ۱۴ کلنۍ پورته عمرونه ولري، له درنو کارونو ژغورو او په مختلفو کسبونو کې ورته د زده کړو زمينه برابروو او له مسلکي زده کړو وروسته ورته کاري وسايل سپارو او که غواړي د يوه مسلکي شخص په توګه کار وکړي،نو اجازه ورکوو.)) په ختيځ کې د دولتي ادارو تر څنګ يو شمېر خصوصي او نړيوالې ادارې او بنسټونه هم د ماشومانو د ملاتړ په برخه کې فعاليت کوي. خو يا د ماشومانو د درنو کارونو ستونزه دومره پراخه ده چې دا ادارې او بنسټونه ټول په درنو کارونو بوخت ماشومان نه شي ژغورلی، او يا خو په مرستو کې درغلي، چارو کې ګډوډي او په اقداماتو کې ناغېړي د دې سبب شوې چې د نور کريم په څېر له زده کړو پاتې او په درنو کارونو د بوختو ماشومانو شمېر له يوې ورځې بلې ته زيات شي.

# په کابل کې د ککړې هوا د مخنيوي لپاره هڅې

کابل ښاروالۍ د هوا د ککړتيا د مخنيوي لپاره لوړپوړو ودانيو، فابريکو، هوټلونو، حمامونو او نانوايانو ته خبرداری ورکړی. کابل ښاروالۍ وايي، د کابل هوا د لا ککړېدو د مخنيوي لپاره يې خپل اقدامات پيل کړي دي.د کابل ښاروالۍ وياندې سمېرې رسا ورمه ورځ ازادۍ راډيو ته وويل، چې ۵۸۸ لوړ پوړيزې ودانۍ يې چېک لېست کړې، چې ۳۰۰ د هوا فلټرکوونکي


RFE/RL

وسايل درلودل او نورو ته يې خبرداری ورکړي.رسا زياته کړه: ((که چېرې بلند منزلونه د لېندۍ تر ۱۵ دغه خبرداری ته غوږ ونه نيوه، عدلي او قضايي بنسټونو ته يې معرفي کوو، همداشان يو شمېر فابريکې، نانوايانې، حمامونه او رستورانټونو چې د هوا په ککړتيا کې ګرم پېژندل شوي، نومونه يې ثبت شوي، له دوی هم غوښتل شوي، چې فلټرې نصب کړي.))دا اقدامات داسې مهال کېږي چې له منې يو نيمه مياشت تېره او ژمي رانېږدې دی.ډېر کابليان د قوس مياشتې په نيمايي کې بخارۍ ږدي.د ژمي په سړو کې د لرګيو لوګې بيې د برېښنا نشتوالی، د خلکو بې وزلي او د خونو د تودولو لپاره د نورو ټېټ بيه سون توکو کمښت د ډبرو د سکرو لګښت ډېر کړی چې تر ډېره د هوا د ککړېدو لاملونه ګڼل شوي.په ورته وخت کې د افغانستان د کانونو او صنايعو خونې رييس شېرباز کمين زاده وايي، دوی د کابل ښاروالۍ سپارښتنو ته جدي پام کړی او دغه ستونزه به ژر هواره شي.هغه زياتوي: ((چېرې چې فابريکې وي طبعاً هلته دود وي، د کابل ښاروالۍ اوسنۍ سپارښتنې مو په پام کې نيولي، په ځينو فابريکو کې فلټرونه نصب شوي او ځينې د نصبېدو په حال کې دي، ژر به دغه ستونزه هواره شي.))په کابل کې د ککړې هوا د مخنيوي لپاره کابل ښاروالۍ دا اقدام داسې مهال کوي، چې د روغتيا نړيوال سازمان د معلوماتو له مخې تېر کال په افغانستان کې۲۶ سلنه مړينه د ککړې هوا له امله وه.روغتياپالان وايي، که د ککړې هوا مخنيوی ونه شي سالنډې، د سږو تکليف، ټوخی او دې ته ورته نورې ناروغۍ د انسانانو ژوند په تدريجي ډول اخلي.

## ملي دفاع وزارت:

# له افغانستانه دې بهرني ځواکونه با مسووليته ووځي


افغانستان دفاع وزارت وايي، د امريکا له نوي جمهور رييس جوبايډن مو، غوښتنه دا ده چې بهرني ځواکونه بايد له افغانستانه با مسووليته ووځي.د ملي دفاع وزارت لومړي مرستيال شاه محمود مياخېل د يکشنبې په ورځ «۱۳۹۹ کال د لړم ۱۸» ازادي راډيو سره په يوه ځانګړې مرکه کې وېره ښکاره کړه چې له دغه هېواده د امريکايي ځواکونو غير مسوولانه وتل افغانستان يو ځل بيا د کورنيو جګړو په ډګر بدل نه کړي.ښاغلي مياخېل وويل، دا نه‌يوازې د افغانستان، بلکې د نړۍ غوښتنه هم ده.هغه زياته کړه: (( دا تقريباً د ټولو هېوادونو غوښتنه ده، که هغه سيمه‌ييز دي او که نړيوال، په خپله د امريکا او افغانستان او افغانانو هم چې بهرني ځواکونه بايد له افغانستانه با مسووليته ووځي، با مسووليته په دې معنی چې بيا افغانستان د کورنيو جګړو په ډګر بدل نه شي.))د ښاغلي مياخېل په خبره دا مهال په افغانستان کې د



U.S. Army (EPA-EFE)

امريکايي ځواکونو شمېر څلورنيم، پنځو زرو ته رسېږي چې د دوحې د هوکړې پر مهال اته نيم زره و.په دوحه کې د امريکا او طالبانو ترمنځ د فبرورۍ د ۲۹مې د هوکړې پر بنسټ بايد د ۲۰۲۱ زېږديز کال تر نيمايي پورې ټول امريکايي ځواکونه له افغانستان ووځي. خو د امريکا پخواني ولسمشر ډونالد ترمپ بيا ويلي وو چې تر را روان کرسمسه پورې به ټول امريکايي ځواکونه افغانستان پرېږدي.د دفاع وزارت مرستيال ډاډ ورکوي چې د امريکايي ځواکونو تدريجي کمښت د جګړو په ډګرونو کومه اغېزه نه ده کړې او اوس افغانستان درې نيم تر څلور لکو پورې امنيتي او دفاعي ځواکونه لري چې له سيمه‌ييزو پاځون کوونکو او پوليسو سره يې شمېر نيم ميليونو ته رسېږي. ښاغلی مياخېل وايي چې امريکا له افغانستان سره په دې وروستيو کې هم مهمې مرستې کړې او له افغان ځواکونو به د دوی ملاتړ دوام وکړي.دی زياتوي: ((سږ کال يې تقريباً د ۱،۵۰۰ په شاوخوا کې هاموې او هغه موټرې چې د جنګ د سرعت وړتيا لري هغه يې د افغانستان حکومت ته ورکړې، په دې لنډو ورځو کې يې يوازې ۴۵۰ نور هاموې دفاع وزارت ته ورکړل چې په همدې شمېر يې پوليسو ته ورکړی دی، له دې سربېره يې ۱۰ هليکوپټرې هم د افغانستان حکومت ته ورکړې او څلور (اې-۲۹) الوتکې يې هم ورکړې، همدا شان، مرمۍ يونفورمونه او د شپې دوربينونه يې هم د افغانستان حکومت ته ورکړل.))د نوموړي په خبره يو شمېر وسايط او تجهيزات چې د امريکايي ځواکونو له‌خوا له منځه وړل شوي هغه داسې وسايل دي چې په درد نه‌خوري. خو په خبره‌يې يو شمېر وسايط او تجهيزات دوی بېرته د پاکستان د کراچۍ بندر له لارې له ځانه سره وړي او يو شمېر يې هم قرارداديانو پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library






# معرفی کتاب ((چیستی آسیب های روانی- اجتماعی))

مصطفی عمرزی

تحولات کودتایی، پیامد هایی داشــتند که تنها در زمینه سیاســی نماندنــد. در واقع اثرات ناگوار آن ها، مردم ما را در چهار راه پریشــانی، به فرامرز هایی کشــانده اند که حتی در کشــور های باثبات، بحران روحی را تجربه می کنند.

نوســتالژی بد که یــاد وطــن را در طوفان حوادث می ســازد، در رهگذر جدید کــه فرهنگ های غیر مانــوس دارنــد، تــا ذات آدمــی نفوذ مــی کند. تا زمانی که عادت، به روش تبارز مبدل می شــود، انبوه ذهنیت های گذشــته کــه در زمینه جدید در برابــر فرهنــگ هــای نــو و قانونمندی هــای متاثر از آن هــا، بــه راحتــی انس نمی گیرند، ســال های زیاد مدام می شــوند تا اکثراً در شانس زنده گی در کشــور هایــی که بــه اصطلاح در جهــان اول جا دارنــد، خود را باز یافت.خــلای روانی مردم ما از افغانستان تا فرامرزی هایی عمیق است که به نام مهاجــر، نوعیــت و ماهیــت آدمــی را معرفی می کننــد کــه باید از نو، تولد شــود. نســل های دوم و ســوم افغــان ها در خــارج، هرچنــد در آموخت بیشتر، راحت اند، اما رشد آنان در خانواده هایی که از بحران ها آســیب دیده انــد و نیازمند تامین ارتباط با عقبه هویت سیاســی، تباری و کشــوری خویش می باشند، پیچیده گی ایجاد کرده است. تا تحلیل عمیق بشری که نیازمند سال های خیلی زیاد می باشــد، خلای روانی می تواند روی رفتار و افکاری تاثیر بگذارد که موجود جا به جا شــده، ناگزیر ذهنیت های قبلی را حمل می کند.

از شــانس بعضــی مردم مــا، افغان هایــی که در کشور های اروپایی، امریکایی یا در آسترالیا، پناه گرفتــه انــد، در تحلیل روان شناســی، منشــی را بروز می دهند که اگر متاثر از نوســتالژی هویتی یا خانواده گی باشد، در بسامد ارتباط، می تواند طرفــی را کــه عمــق هویتــی او در کشــورش می باشــد، از مزایای فرهنگ هایی مستفید بسازد که در تجربه نو زنده گی، آموخته اســت؛ اما آنچه به بحران روانی ما دامن می زند، افزون بر پوشــش خبــری هجرت میلیونی هموطنــان، تجربیات تلخ زنده گی در کشــور هایی هســتند که جهان سوم، نامیده می شــوند.تعداد زیاد مردم ما بر اساس علایــق قومــی، فرهنگــی و زبانــی هجــرت کرده انــد، اما ایــن تجربه در جا هایی کــه ظواهر گیرای فرهنگــی هم داشــته انــد، آن قدر بد اســت که در بازگشــت هزاران افغان از کشــور های همسایه، به نوســتالژی رنج های ما پــس از تحولاتی کودتایی مــی افزاید.مــا در همه عرصه ها نیــاز داریم. نیاز های علمی، اگر مرفوع نشوند، روی کارکرد هایی تاثیر می گذارند که با ماحصل منفی، بر دشواری هــای ما افــزوده اند. چــرا نمی توانیــم از فرصت هایی ســود ببریم کــه در چرخش سیاســی، دنیا را بــه افغانســتان آورد، اما ورودی نشــد که باید در قامــت عمران زیاد می شــد. بل حرف مهمان بــه جای صاحب خانه، قضیه سیاســی ما را آن قدر پیچیده ســاخته که رد تمام جوانب خارجی دخیل در آن دیــده می شــود.در کتــاب «در یک جامعه بــا آســیب هــای روانی، من چه کســی هســتم؟»، تحلیــل ماهیــت آدمــی در انواعــی کــه متاثــر از جــا به جاییســت، آیینــه ای را در جلو مــا قرار می دهــد که مــی پندارم انســان افغان، بیــش از همه نیازمنــد بازبینی خود در آن اســت.ما در ســاحه اکادمیک، از سال های زیادیست که با آثار بزرگان غربی، آشــنایی داریم. اصولاً روش های سیاسی معاصر ما، عموماً تابع تجربیاتی هستند که جزو رنسانس غرب، شمرده می شوند. در این رابطه، اگــر داده های فرهنگی عرصه هــای مختلف، ارائه می شــوند، اکثراً با ماهیت علمی، نوعی ارتباطی هم هســتند که ما در دایره مدنی در آن ها شامل هســتیم.تحلیل جامع روانشناســی در کتاب «در یــک جامعــه با آســیب های روانی، من چه کســی هســتم؟»، روی مولفه های زیادی شکل گرفته که بیشــتر در شناخت انســانی که تحت تاثیر بیش از حد القاآت اجتماعی متاثر از سیاســت، قرار دارد، درمانــده گــی را بروز مــی دهــد.درآوردن عقده هایی مردمی که از مصایب خودشــان شــروع می شــوند و بــه فرزندانی منتقل شــده اند که در بی نهایــت انس اجتماعی در کشــور های دیگر، حتی اگــر یک نوســتالژی کوچک هم از کشــور خویش داشــته باشند، حداقل در فضای اخباری که پخش می شــود، همچنان عذاب خواهند کشید که جای ریشــه های شــان، هنــوز دودزده اســت(متاثر از جنگ ).افــزودی بر شــرح رنــج های مــردم ما که خصوصاً پرونده روانی آنان بســیار بررســی نمی شــود، کار روزمــره افغان هایی نیز می باشــد که شاید با ذهنیت تحلیل روانشناسی ننویسند، اما اگر می نویســند، اندوه، ســایه روان شــان است. جوانــان زیــاد افغــان در عرصــه تحلیــل و تبیین روانشناســی، فعال هســتند. هر روز به مخاطبان داکتر جمشید رسا و استاد شرف الدین عظیمی، افزوده می شــود. در پایان ایــن معرفه، یادآوری می کنم که هرچند این افزودی بر اســاس مهارت هــای نخبــه گان ماســت، اما ارقامــی را محرز می ســازد که چگونه با پیچیده تر شدن بحران روانی ما، شمار بیماران پیدا و پنهان، زیاد می شود.

در هرج و مرجی که دایماً ذهنیت هجرت ایجاد می کنند، نیاز های ما به آگاهی هایی «در یک جامعه با آســیب های روانی، من چه کســی هستم؟»، کمتر از داده هایــی نیســت کــه مســتقیماً از تجربیــات روانی اجتماع خود به دست می آوریم.

# ملي تیاتر د ښځو د غښتلتیا ((توانایی زنان))ننداره وړاندې کړه

دهېواد وتلې ژورنالېســته زهره ((رهگذر یوســف)) دجمهــوري ریاســت دارگ په چارچنــار قصرکې د یوې غونډې په ترڅ کې تقدیراو وویاړل شوه.په دې غونډه کې دافغانســتان ولســمشر ښــاغلي محمد اشرف((غني))درنو وزیرانو،وکیلانو،مخوروشخصیت ونو،داطلاعاتواوفرهنگ سرپرســت اود خصوصي او دولتي رســنیو استازو برخه اخېســتې وه.دغونډې پــه څنــډه کــې داطلاعاتواوفرهنــگ وزارت دملي تیاترریاســت ممثلینو دښــځو دغښــتلتیا((توانایي زنــان)) ننداره وړاندې کړه،چــې دگډونوالوله تاوده هــرکلي سره مخ شــو.د مــلي تیاتــر د ننــدارو آمر ښاغلي شمس الدین((یوسفي)) د هېواد ورځپاڼې د خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې،چې د ښځو دغښــتلتیا((توانایي زنان)) ننداره،چې په چارچنار قصرکــې وړاندې شــوه موخــه یې څه وه؟ داســې وویــل:د اطلاعاتــو او فرهنــگ وزارت د مــلي تیاتر



ممثلینود ښځود غښتلتیا ننداره د جمهوري ریاست د ارگ په چارچنارقصرکې نندارې ته وړاندې کړه.دا ننداره د هېواد د وتلې ژورنالېســتې زهرې((رهگذر یوسفي)) په ویاړوړاندې شوه.دغه ژورنالسته پخواپه امریکاکې اوســېد،خوبیابېرته هېواد ته راستنه شوه او خپلــو هېوادوالــو ته یې دخدمــت اوړه ورکړه. د افغانســتان جمهــوري ریاســت هوډمن شــو،چې دغــه تکــړه ژورنالېســته تقدیرکړي.هماغــه و،چې جمهوررییــس غنــی دافغانســتان د ملالۍ مډال ورتــه ډالۍ کــړ.ده زیاتــه کړه:څه مــوده وړاندې د اطلاعاتواوفرهنــگ وزارت ، ملي تیاترته سپارښــتنه وکړه،چې د زهرې رهگذر دتقدیرولوپه مناســب په هغو مراســموکې،چې دجمهوري ریاست دارگ په چارچنارقصرکې جوړېږي د ښځو دغښتلتیا(توانایي زنان)ننــداره وړانــدې کړي،لــه نېکــه مرغــه موږ پردې وتوانېدو،چې دښــځو دغښــتلتیا ننداره،چې دښــځوپه اړه وه،جوړه کړو.ننــداره د شریف سروري لیکنــه وه اوکارگرداني یې ښــاغلي رحــماني وکړه. دمــلي تیاترممثلــین د غونــډې دگډونوالــو له خوا وویاړل شــول.ننداره دغونډې د گډونوالو دپاملرنې وړوگرځېده.ښــاغلي یوســفي د دې پوښــتنې پــه ځواب کې،چې د ســیالۍ ننداره ،چې ترکارلاندې ده محتوا یې څه ده؟ څرگنده کړه: د سیالۍ ننداره د لیگ برتــرد مراســموپرمهال باید وړاندې شــوې وای،خو دځینو ســتونزوله امله،چــې په ننداره کې لیــدل کېدې وړېې ونــه بلل شــوه،چې نندارې ته وړانــدې شي.هلته موږ دویمــه ننداره،چې له لیگ برترسره یې همغږي لرله وړاندې کړه. ٦مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي تياتر د ښځو د غښتلتيا((توانايي زنان))ننداره . . .

د سيالۍ دننداري نوم بدل شواودسولې نوم پرې کېښودل شو.اوس د دغې نندارې پربشپړولوکارروان دی،چې په نږدې ورځوکې نندارې ته وړاندې شي.داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت د ستونزوله امله دهنرورځ نه ده لمانځلې،غواړي جوړه شوې ننداره دهنرپه تړاو وړاندې کړي.

دملي تياتر د نندارو‌آمر د دې پوښتنې په ځواب کې،چې ستاسې د سرګردانه کيسو(قصه های سرګردان) نندارې موخه څه وه؟ ډاګيزه کړه:موږ وغوښتل،چې دهنر د ورځې پرمهال دماشوم دځلولوپاره هم يوه ننداره ولرو،هماغه و،چې د سرګردانه کيســو د نندارې پرجوړولــو موکارپيل کړ.زموږ اداره دوه آمريتونه لري،چې يوې دکابل نندارې آمريت دی،چې مســؤليت يې زه لرم او دويم يې د ماشــوم د تياتر آمريت دی.د سرګردانه کيســو ننداره،چې ليکوال يې کريم رحماني او کارګردان يې رشيدي دی په راتلونکې کې به دهنر مينوالوته وړاندې شي.د دغې نندارې د جوړولو کارله پنځوس سلنې ډېرپرمخ تللی دی. ده زياتــه کړه: د مــلي تياتر دممثلينوبله ننداره،چې کارپــرې روان دی هغه هم د هنردلمانځلوپرمهال وړانــدې کېږي.د دغې نندارې د برابرولولپاره يوممثل کارکوي،چې د نندارې ترپايه خپل رول ولوبوي. مــورد نندارو دجوړولولپاره تقسـيم اوقات جوړکړی دی،هره ننداره پــه ځانګړې ورځ نندارې ته وړاندې کوو.دغه ننداره د ښــاغلي عــلي داد ليکنه ده،چې نوی د ښــکلوهنرونوله پوهنځي څخه فارغ شــوی دی.علي داد په اصل کې د نندارې کارګردان دی،درول لوبولومسؤليت هم ده پرغاړه اخيستی دی.

ښاغلي يوسفي د دې پوښتنې په ځواب کې،چې ملي تياترپه تېروکلونوکې له يولړستونزوسره مخ و،اوس وضعيت څنګه دی؟ داســې وويل:موږاوتاســې په غيرعادي شرايطوکې کارکوو.ستونزې شته ،خوزموږ پروړاندې،چې په تېروکلونوکې کومې ســتونزې پرتې وې هغه لږې شــوي دي.موږ داطلاعاتواوفرهنګ وزارت لــه سرپرســت اونورولوړپوړوچارواکــو مننددوی يو،چې مــلي تياترته يې ځانګــړې پاملرنه اړولې ده.ترهغه ځايه،چې شونې ده زموږپه واک کې يې امکانات راکړي دي.موږ هيله من يو،چې له پارلمان څخه دباور رايې ترلاسه کړي،چې د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې د مثبتوبدلونونو لړۍ دوام وکړي. هغه تل له ملي تياترڅخه ليدنه کړې اوزموږ له اړتياوو اوستونزوڅخه خبرشوی دی. ملي تياترته پاملرنه دده لورينه ده،داکار زموږ روحيه غښتلې کوي اوموږ دښونندارو‌جوړولوته هڅوي. ملي تياترترډېره بريده هڅه اوهاندکوي ،کوم هنري تجهيزات،چې په واک کې لري له هغو څخه اعظمي ګټه پورته کړي،چې د نندارو‌کيفيت لوړشي.

محبوب نوري

# افغان اعلانات

بدينوسيله به تاسی ازفقره{2}ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده ميشود،رياست تدارکات به نماينده گی ازرياست امور ساختمانی وملکيت ها: امورات (تهيه واکمال مواد بخش برق،آبرسانی وساختمانی جهت ترميم تأسيسات کمپ پی آر تی(PRT) ولايت غزنی مربوط قوماندانی قول اردوی عمليات های خاص.. تحت شماره داوطلبی نمبر(MOD-1399-W-C0177-22416)را به شرکت ساختمانی اکرم وحيد دارنده جواز نمبر(D-37477):آدرس شرکت ساختمانی اکرم وحيد:صياد،بگرام،پروان، را به اساس حکم نمبر{2303} مورخ10/8/1399 مقام محتـرم وزارت دفاع ملی به قيمت مجموعی مبلغ (12926593.90) دوازده ميليون ونوصدو بيست وشش هزار وپنج صدو نود وسه اعشاريه نود افغانی اعطاء نمايد.
اشخاص حقيقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمينه داشته باشند ميتوانند اعتراض خويش را ازتاريخ نشر اين اعلان الی هفت روز تقويمی طورکتبی توام بادلايل ان به آمريت تدارکات امور ساختمانی رياست تدارکات واقع خواجه بغراء مقيم گارد سابقه: بلاک جديد منزل {2} اتاق نمبر{202} ناحيه پانزده شهرکابل وفق احکام ماده {50} قانون تدارکات ارائه نمايد
اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکميل ميعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی ، قرارداد منعقد نخواهد شد۵۲۴۱

*******

اسامی فيصل ولد عبدالخليل يک عراده موتر تيوتا کرولا غرفه دار پليت ۳-۶۳۲۹۳ ش کابل انجن ۴۲۰۱۵۸۳۵۰ و شاسی تی۱۷۲ای ای۱۰۰۲۱۵۷۲۰ را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای اسامی قاری ولد قدرت الله بفروش می رساند. بناء اشخاص ادارات و موسساتيکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۵۲۲۶

*******

اسامی شرکت حاجت نوری لميتد يک عراده موتر تيوتا کرولا پليت ۲-۴۹۷۷۶ ش کابل انجن ۱زيد ۵۳۷۸۳۲۱ و شاسی ۱ان ايکس بی آر۱۲ای۲۲۳۴۴۵۵ را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای اسامی احمدنويد ولد غلام محمد بفروش می رساند. بناء اشخاص ادارات و موسساتيکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۵۱۹۷

*******

به اطلاع ذکی فرزند نصيراحمد متهم قضيه مواد مخدر می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان امنيت عامه، محکمه ابتدائيه حوزه اول غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۸

*******

کارت جواز کار اتباع خارجی تبعه پاکستان به اسم آصف خان مفقود گرديده اعتبا رندارد.۵۲۲۹

*******

اوراق دعوی مزمل عابد وکيل شاه ولی ولد ملک سيد حسين عليه نجيب الله ولد حفيظ الله در رابطه به مطالبه پول دراين محکمه تحت بررسی هيات قضايی قرار داشت در زمينه فيصله نمبر ۱۱۱ مورخ۸/۸/۱۳۹۸ مبنی بر اثبات دعوی مدعی بالوکاله درحال حضورداشت حارنوال نورمحمد اميری وکيل مسخر نجيب الله ولد حفيظ الله از طرف محکمه هذا حکم غيابی صادر گرديده بنا بتاسی از هدايت مصوبه نمبر ۳۴۳مورخ۱۹/۳/۱۳۹۴و ۳۰۳مورخ۱۵/۴/۱۳۹۵ شورای عالی مقام ستره محکمه به اطلاع اسامی نجيب الله ولد حفيظ الله محکوم عليه غايب باشنده ناحيه يازدهم شهر کابل رسانيده ميشود که بعد از نشر اعلان هذا الی مدت دوماه در محکمه حاضر گردد درغيران حکم فيصله نمبر فوق در مورد تطبيق آنگاه حق شکايت را ندارد.۵۲۴۷

*******

به اطلاع جان¬آقا فرزند بازمحمد متهم قضيه اخفای مجرم و ارايه شهرت غير واقعی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه چهارم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۰

*******

به اطلاع ظاهر فرزند محمدامين متهم قضيه لت و کوب می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۸

*******

به اطلاع عطامحمد فرزند غلام¬محمد و شگوفه بنت غلام¬حسين متهمين قضيه قتل می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به ديوان جزای عمومی محکمه استيناف ولايت کابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۹

*******

به اطلاع احمدشاه فرزند محمدشريف متهم قضيه سوءاستفاده از صلاحيت وظيفوی می¬رسد؛تا سر از نشر اعلان الی ده¬ يوم به محکمه ابتدائيه جرايم ناشی از فساد اداری غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۷

*******

به اطلاع مسيح¬الله ولد عبدالحنان متهم قضيه مواد مخدر می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به ديوان امنيت عامه محکمه استيناف ولايت کابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۳

*******

به اطلاع اسماعيل فرزند محمدسليم متهم قضيه سرقت برق می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه چهارم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۱

*******

به اطلاع سمير فرزند جمعه¬گل متهم قضيه غصب می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی پنج يوم به ديوان جزاء محکمه ابتدائيه حوزه چهار شهرکابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۴

*******

به اطلاع اسماعيل فرزند محمدسليم متهم قضيه سرقت برق می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه چهارم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۱

*******

به اطلاع سمير فرزند جمعه¬گل متهم قضيه غصب می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی پنج يوم به ديوان جزاء محکمه ابتدائيه حوزه چهار شهرکابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۴

*******

به اطلاع مصطفی فرزند محمدعلی متهم قضيه اختفای اشيای ناشی از جرم می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۵

*******

به اطلاع مهراب فرزند جان¬علی، غلام¬محمد فرزند چمن¬علی و محمدجان فرزند صادق می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۰۶

*******

يک قطعه کارت هويت وکالت دفاع شماره ۲۵مورخ۸۱۳۹/۹۲/۱۱ مربوط وکيل مدافع محترم محمد صابر مرزی فرزند پردل که شماره متذکره نيز درج آن ميباشد مفقود گرديده است اعتبا رندارد.۵۲۲۱

*******

به اطلاع محمداعظم فرزند منگل متهم قضيه غصب پول و موبايل می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان جزای عمومی محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۲۲

*******

به اطلاع بصير فرزند فقيرمحمد متهم قضيه چپاول می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان جزای عمومی محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۲۴

*******

به اطلاع جمشيد فرزند لعل محمد متهم قضيه شراب¬نوشی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان جزاء، محکمه ابتدائيه حوزه دوم غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۲۰

*******

به اطلاع وسيم فرزند جانداد متهم قضيه فعل زنا و حمل سلاح غير قانونی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان جزاء، محکمه ابتدائيه حوزه دوم غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۶

*******

به اطلاع معشوق¬الله فرزند رسول¬الدين متهم قضيه مواد مخدر چرس می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه چهارم غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۵

*******

به اطلاع عبدالهادی فرزند فقيرمحمد متهم قضيه مجروحيت می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به ديوان جزاء عمومی، محکمه استيناف کابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۷

*******

به اطلاع الهام فرزند مبارک¬شاه متهم قضيه چپاول می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به ديوان جزای عمومی محکمه ابتدائيه حوزه سوم شهرکابل غرض فيصله دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۹

*******

به اطلاع عين¬الله فرزند حاجی¬فقير متهم قضيه حمل سلاح غيرقانونی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده يوم به محکمه ابتدائيه حوزه اول شهرکابل غرض حل دوسيه نسبتی خويش حاضر شوند، در غير آن فيصله غيابی صادر می گردد، آنگاه حق شکايت را ندارند.۵۲۱۴

*******

ترجمه انگليسی تذکره تابعيت به اسم غزال ولد محمدهمايون مفقود گرديده اعتبار ندارد.۵۲۳۴

*******

کارت جواز کار به اسم نديم ولد گل الرحمن تبعه کشور پاکستان مفقود گرديده اعتبار ندارد.۵۲۳۰

*******

ترجمه انگليسی نکاح خط شرعی به اسم صابر ولد عبدالله و ليلا بنت موسی مفقود گرديده اعتبا رندارد.۵۲۱۲

*******

موضوع : تهيه وتدارک (86) قلم پرزه جات ماشين الات مختلف النوع خياطی ضرورت مديريت عمومی ملبوسات نظامی معاونيت تامينات تکنالوژی ولوژستيک سال مالی 1400(ازروش داوطلبی باز)
MOD/G-LOO17/25213/1400شماره داوطلبی :
ازتمام داوطلبان واجدشرايط دعوت مينمايد تادرپروسه داوطلبی اشتراک نموده توسط حافظه .يافلش .دسک ويازويپ سايت وزارت دفاع ملی WWW.MOd.gov.af واداره تدارکات ملی www.npa.gov.af بدست آورده آفرخويش رامطابق شرايط مندرج شرطنامه وطبق قانون وطرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاريخ نشراعلان الی ساعت (10) بجه قبل ازظهر به روزبيست دوم در رياست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا مقيم گارد سابقه درتعميرآفرگشائی ارايه نمايند آفرهای ناوقت رسيده وانترنيتی قابل پزيرش نميباشد .
تضمين آفر: بشکل گرنتی بانک مبلغ (140000) يکصدوچهل هزارافغانی
جلسه آفرگشائی ازتاريخ نشراعلان بروزبيست دوم ساعت 10 قبل ازظهر درصالون آفرگشائی در رياست تدارکات وزارت دفاع ملی تدويرمی گردد.
نوت : ازداوطلبان محترم خواهشنمديم که هنگام تسليمی آفراسناد سوابق کاری . پروژه های مشابه . توانمندی مال وسايراسناد تقاضاشده مندرج شرطنامه راتسليم نمايند . ۵۲۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینډوز ۱۰ پنځه ځانګړتیاوې چې د کار بڼه بدلوي

**راټولوونکی: احمد فرهاد**

د شپې حالت ، د وینډوز او مجازي ډیسټاپونو شیک:
ډېری خلک په وینډوز ۱۰ کې د دې عملیې کارونو سره بشپړ نا اشنا دي چې ستاسو د کاري پروسو د پاکولو ظرفیت (او سرعت) لري.
تاسو اوس د تل لپاره وینډوز کاروئ شاید فکر وکړئ چې تاسو خورا اړین چالونه پېژنئ. مگر دا لاندې څخه یې یو ونه کاروئ ، ځکه چې یو شی به غیر فعال شي یا دا چې تاسو د دوی پر بشپړ ظرفیت نه پوهېږئ دلته په وینډوز ۱۰ کې له پنځو لړ پېژندل شوي، مگر د خورا گټورو کارونو یو عمومي لید دی چې باید له هر کاروونکي سره مرسته کولی شي.
واقعي ډیسټاپونه(Virtual desktops): که تاسو په یو څو یا له یوه نه ډېر شمېر وینډوز خلاص کړئ ، یو براوزر(browser) او د کلمې پروسیسر(word processor) ووایاست ، نو تاسو احتمال لرئ د دوه یا ډېرو مجازي ډیسټاپونو درلودو څخه گټه واخلئ چې یو له بل سره توپیر لري.
«دا ډولونه تاسو ته اجازه درکوي چې د کاري ډیسټاپ او شخصي ډیسټاپ ترتیب تنظیم کړئ ، د مثال په توگه ،» د جرمني د IT ماهر سباسټین کویس وایید اضافي ډیسټاپ رامنځته کول اسانه دي: په ساده ډول د ټاسک په کې چپ اړخ کې د ټاسک ویکټ آئیکون غوره کړئ او د نوي ډیسټاپ اضافه کولو اختیار به ستاسو د سکرین په پورتني کونج کې څرگند شي. د ټاسک لید به د ټولو خلاص غوښتنلیکونو او وینډوز یوه عمومي کتنه هم چمتو کړيتاسو حتی کولی شئ لاندې راښکاره شی وگورئ او د خپلو تېرو فعالیتونو مهال وېش و ارزوئ. کلوس (Kloess) څرگنده کړه: «وینډوز ۱۰ هغه څه په یاد لري چې موږ په تېرو کې ترسره کړي دي.»ایرو شیک (Aero Shake): دا په زړه پورې ډول کولی شي گټور وي کله چې تاسو په ورته وخت کې ډېری وینډوز خلاص کړی وي. د دې کړکۍ پورته کولو لپاره د هرې کړکۍ په پورتنۍ بار کې کلیک وکړئ او بیا یې کړکۍ ټیټه کړئ. سمدلاسه به تاسو وگورئ چې نورې ټولې وینډوزگانې کمې



شوې. کړکۍ بیا ولړه ترڅو دوی بیا څرگندې شي.
غزول شوي کلیپ بورډ (Extended clipboard): دا ډول ، د نوي وینډوز ۱۰ نسخه په ۱۸۰۹ کې معرفي شوې ، تاسو ته اجازه درکوي ټول هغه شیان وگورو چې تاسو یې د پیسټ لپاره کاپي کړئ، د هر چا لپاره کار چې ډېر وختونه ورته متن یا عکس پیسټ کول وي.«د اصلي خصوصیت په واسطه غیر فعال شوي دي او له همدې امله ډېر کاروونکي پدې نه پوهېږي ،» جوارگ هینلي ، چې یو ویب چلوي او له کمپیوټري ستونزو سره مرسته کوي ، وایي.له تازه کولو دمخه دا یوازې په کلپ بورډ کې د یو عنصر ذخیره کاوه، مگر اوس دا ۲۵ ته رسي. په هرصورت ، دا کلپ بورډ باید لومړی د ترتیباتو لاندې فعال شي.«سیسټم» غوره کړئ او بیا د لټون بار کې د کلیپ بورډ تنظیماتو کې ټایپ کړئ. «کلپ بورډ اوس د ورته نوم سره برخه کې ښي اړخ کې فعال کېدای شي» ، هایهین تشریح کوي.د عناصرو اضافه کولو لپاره ، تاسو اوس هم CTRL + C فشار ورکړئ یا په نښه شوي متن کې ښې کلیک وکړئ. د متن سنیپټ لېست ته د لاسرسي لپاره ، WINDOWS + V فشار ورکړئ چې کلیپ بورډ خلاصوي او تاسو کولی شئ د ټولو ذخیره عناصرو څخه غوره کړئ.«دا حتی امکان لري په لېست کې د تل لپاره ټوټې ذخیره کړئ ، پدې معنی چې تاسو اوس هم کولی شئ د کمپیوټر له سره چالانولو وروسته وکاروئ.»
د شپې رڼا (Night Light): د کاروونکو سره د شپې خوب کې مرسته کوي ، د وینډوز ۱۰ نائټ لائټ خصوصیت د گرمو رنگونو په کارولو سره له پردې څخه خارج شوي نیلي رڼا را کموي.
د شپې رنا د ورځې په اوږدو کې هم کارول کېدای شي ، ماهر وایي. تاسو کولی شئ د ترتیبات ، سیسټم او ننداري لاندې ترتیب فعاله کړئ چې تاسو کولی شئ وخت وټاکئ یا سمدلاسه فعال کړئ او همدارنگه د فلټر شدت تنظیم کړئ،چې په اتومات ډول په لمر ختلو کې راشي.په هرصورت ، دا ځینې وختون د سترگو لپاره څو دقیقې وخت نیسي ،چې د شپې رڼا رنگونو کې ترې کار واخیستل شي ، هینیل خبرداری ورکوي.Dictation : وینډوز ۱۰ هم له تاسو سره د شیانو په لیږدولو کې مرسته کولی شي. داخوصیت به ستاسو خبرې کلمې په متن بدلې کړي او د مثال په توگه په ورډ پیډ کې کارول کېدای شي. د دې د فعالولو لپاره ، WINDOWS + H فشار ورکړئ. د نقل بندولو لپاره ، ساده وواپید دې د استعمال یا کارولو لپاره به تاسو یو مایکروفون ته اړتیا ولرئ ، چې معمولاً په هرصورت په لپ ټاپونو کې جوړېږي. په هرصورت ، هاهینل وروسته د متن دوه ځله سپارښتنه کوي ، ځکه چې وینډوز ځینې وختونه د ټکو پېژندلو لپاره مبارزه کوي ، په ځانگړې توگه که د شالید غږ شتون ولري.

# بلخ کې نا امنیو د ښځینه سوداګرو فعالیتونه زیانمن کړي

په شمالي ولایتونو کې یو شمېر ښځینه سوداگرې وایي، چې د ناامنیو له امله یې سوداگریز فعالیتونه زیانمن شوي دي.سیما هاشمي په بلخ له سوداگرو مېرمنو یوه ده.د دې په خبره چې د ناامنیو د زیاتوالي او د حکومتي پلاوي او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو د اوږدېدو له کبله د سوداگریزو توکو د لېږد او رالېږد بهیر ته زیان رسېدلي. دې ازادۍ راډیو ته وېیلي چې طالبانو د سولې په خبرو کې د امتیاز د ترلاسه کولو په موخه خپلې حملې زیاتې کړې چې له امله یې په شمال زون کې د ناامنیو د زیاتوالي ترڅنگ د پانگونې کچه هم کمه شوې.آغلې هاشمي وویل، چې پر لویو لارو د طالبانو پراخ حضور او له سوداگریزو توکو باج اخیستل د دې سبب شوي چې خنډ سره مخ شوې.د هغه په خبره چې طالبانو د حملو په زیاتوالي سره په شمالي ولایتونو کې د سوداگریزو توکو لېږد رالېږد کم کړی او همداراز سوداگر په بلخ، جوزجان، سمنگان او سرپل کې پانگونې ته زړه نه ښه کوي.قاسمي زیاته کړه: (( ناامنۍ په ټول سوداگریز فعالیت خاصتاً د سوداگرو ښځو پر فعالیت ناوړه اغېزه کړې، لارې ناامنه دي او له سوداگریزو توکو باج اخیستل کېږي.))د بلخ پولیسو هم تائید کړې، چې طالبان پر لویو لارو د سوداگریزو توکو د لېږد له گاډو باج اخلي.د بلخ د صنعت او سوداگرۍ ریاست مشر شیر احمد سپاهي زاده هم وایي، چې د طالبانو د حملو په زیاتېدو سره د سوداگرو ښځو فعالیت کم شوی دی.په مزارشریف کې د خوارکي



له بهره او له یوه ولایت نه بل ولایت ته د سوداگریزو توکو لېږد بند شي.هغې زیاته کړه: (( د طالبانو وسله وال فعالیت او د سولې د خبرو پر مهال یې د حملو زیاتوالی سبب شوی چې سوداگریزې چارې خاصتاً د سوداگرو ښځو فعالیت زیان ویني، موږ د ناامنیو له امله نه شو کولی چې د هېواد مختلفو برخو ته د پېر او پلور لپاره توکي واستوو.))مېرمن هاشمي سره له دې چې په افغانستان کې د سولې راتلو ته هیله لري خو وایي، چې د سولې د خبرو د لومړي پړاو اوږدېدو په قطر کې د طالبانو او افغان حکومت د پلاوي ترمنځ د سولې خبرو مثبتو پایلو ته ناهیلي زیاته کړې ده.دې وویل، که دا خبرې یوې پایلې ته هم ورسېږي بیاهم دا وېره شته، چې د طالبانو د بیا راتگ سره د سوداگرۍ په برخه کې د ښځو پر فعالیتونو محدودیتونه ونه لگول شي.نوموړې زیاتوي: (( زموږ وېره دا ده چې طالبان هغې خپلې پخوانۍ تگ لارې ته مخه کړي، او بیا به ښځې اجازه ونه لري چې سوداگریز فعالیت ترسره کړي.))له دې وړاندې طالبانو ویلي چې د اسلامي اصولو په چوکاټ کې به د ښځو حقونه خوندي وي، خو په دې اړه یې وضاحت نه دی ورکړی.په همدې حال کې د شمال زون د صنایعو او سوداگرۍ خونې اجرائیه مدیر نصیر احمد قاسمي ویلي چې د ټول شمال په سطح ۱۵۰ ښځې د سوداگرۍ په برخه کې فعالې دي.هغه ویلي، چې د هغوی فعالیت له بهره پر وارداتي توکو ولاړ دی او دغه چاره اوس د ناامنیو له امله له توکو تولیدوونکي هم د ناامنۍ او په قطر کې د سولې د مذاکراتو د بې پایلو هڅو په اړه اندېښمن دي او وایي، چې یاد بهیر د دوی کار و بار ته صدمه رسولې.پرستو بابر په مزار ښار کې د کیک او کلچې د تولید کارخونه لري، او وایي چې د ناامنۍ په خاطر نه ده توانېدلې چې ولسوالیو کې خپلو مشتریانو ته توکي ورسوي.هغه زیاتوي: (( وضعیت ښه نه دی زموږ توکي هم نه خرڅېږي، اوس لارې ناامنه دي موږ نه شو کولی چې د خپلو مشتریانو فرمایشونه ورته برابر کړو ځکه په لارو کې طالبان حضور لري او موږ ولسوالیو ته توکي نه شو استولی.))پرستو وایي، چې په تمه ده څو د قطر په دوحه کې د سولې پیل شوې خبرې یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي او هیله لري چې د اوربند په ترسره کېدو سره د نورو اداري او ټولنیزو فعالیتونو ترڅنگ د ښځو سوداگریز فعالیت هم وده وکړي.پرستو زیاته کړه: (( که څه هم له ډېرو ستونزو سره مخ یو او ناامني زیاته شوې، خو هیله لرم چې اوربند وشي او موږ وکولی شو مختلفو سیمو ته تولیدات ورسوو، له دې سره به ډېرو ښځو ته د فعالیت زمینه برابره شي.))په قطر کې د سولې د بین‌الافغاني مذاکراتو له پیله دوې میاشتې تېرېږي خو تراوسه دواړه لوري پر دې نه دي بریالي شوي چې د خبرو د دوام لپاره پر یوه گډه تگلاره سره موافقې ته ورسېږي. په ورته وخت کې د افغانستان په مختلفو سیمو کې هم وسله وال تاوتریخوالی زیات شوی دی.

# افغان حکومت د امریکا له نوي حکومته وغوښتل چې ...

طالبان لا هم له القاعده او نورو ترهگریزو ډلو سره اړیکې لري او په دې برخه کې یې هم خپل تعهدات نه دي عملي کړي.تر دې وړاندې طالبانو افغان حکومت په دې تورن کړی و، چې گوندې د جگړې ډگر یې تود ساتلی او د سولې خبرې یې له خنډ او ځنډ سرهمخ کړې دي.سرور دانش د جو بایډن په مشرۍ د متحده ایالتونو له نوي جوړېدونکي حکومته وغوښتل، چې په افغانستان کې واقعیتونو ته په کتو د سولې له پروسې سره مسوولانه چلند وکړي.بل خوا، طالبانو هم له جوبایډن غوښتي چې د دوحې پر تړون پاتې شي او خپل ځواکونه له افغانستانه وباسي.

# شواهد ښيي چې پر کابل پوهنتون وروستی ترهګریز ...

موندنې شوي، خو زیاتوي چې د کره والي لپاره یې لا هم څېړنې روانې دي.د نوموړي پر وینا کله چې بریدگر په دې پوه شوي ،چې امنیتي ځواکونه د بامونو په سوري کولو سره دوی ته رسېږي په لاسونو کې یې بمونو ته چاودنه ورکړې او ځان وژنې یې کړې دي.دی وایي: دغه کار ښیي چې هغوی پوهول شوي و، چې د نه پېژندگلوۍ لپاره یې باید د گوتو ثبوت پاتې نه شي او له منځه یې یوسي.د امرالله صالح پروینا گمان کوي، دغه بریدگر له دې وړاندې هم د جرمونو په تور نیول شوي او بایومتریک شوي، نو ځکه یې د نه پېژندلو لپاره خپل لاسونه او گوتې پرې کړې دي.د تېرې دوشنبې په ورځ د روانې عقرب میاشتې په ۱۲مه پر کابل پوهنتون وسله وال ډله ییز برید وشو چې ۲۲ په کې شهیدان او ۴۰ نور ټپیان شول.که څه هم ددغه برید مسوولیت داعش ډلې ومانه او طالبانو په کې لاس لرل رد کړل ،خو د ولسمشر لومړي مرستیال او د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وایي، چې دغه کار طالبانو کړی دی.
امرالله صالح ویلي، که طالبان د برید مسوولیت واخلي که نه، اسناد او ثبوتونه ښیي، چې دغه برید طالبانو کړی دی.

# امریکا او ناټو د ۴ هوایي ډګرونو چارې افغانانو ته ...

وځي، امریکا او ناټو د افغانستان د هوایي ډگرونو کنټرول افغانستان ته سپاري ،خو د افغانستان په دویم ستر هوایي ډگر کې افغانان روزل شوي نه دي، چې د احمدشاه بابا د هوایي دگر چارې سمبال کړي.سټارز انډ سټرایبس ورځپاڼې ته د احمدشاه بابا د هوایي ډگر د ملکي هوایي چلن رییس مسعود پښتون ویلي، د دغه هوایي ډگر کارکوونکو ته نه دي ورښودل شوي، چې څرنگه د هوایي کنټرول برج او رادار اداره کړي او یا یو شمېر نورې مهمې چارې په غاړه واخلي. پښتون دا هم ویلي، چې د دوی کارکوونکو ته حتی دا هم نه دي ورزده کړل شوي، چې څرنگه د اطفایي موټر وچلوي. د ده په باور د ناټو او امریکایي کارکوونکو له وتلو وروسته به دا هوایي ډگر له ستونزو سره مخ شي.په افغانستان کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په بیان کې ویلي ،چې د احمدشاه بابا هوایي ډگر د بشپړه سپارلو لپاره دقیقه نېټه لا نه ده ټاکل شوې او هغه مهال به دا هوایي ډگر وسپاري ،چې افغانان یې سمبالولو ته تیار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Hewad Daily

سه شنبه  د ۱۳۹۹ل د لړم ۲۰ مه دربیع الاول۲۴مه د 10/11/2020

۱ ډالر ۷۶.۸۸ افغانۍ | ۱۰۰۰ هندی روپۍ ۱۰۴۰ افغانۍ | ۱۰۰۰تومان ۲/۹۰ افغانۍ | ۱۰۰۰ پاکستانی روپۍ ۴۶۰ افغانۍ



د دولتي ورځپاڼو رييس :  فريد احمد فرهنګ-۰۷۰۴۰۰۸۰۸۰
مشر  مسوول: احمد زلمی شهباز -۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸
مسوول سکرتر : شېرمحمد نظري ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱
کتونکي ډله: شاولي قرار، سیدیوسف شريفي، رفيع الله رووفي،محمد یونس مایار، میر مسجدی عزیزی
ډيزاين: مايار  د ورځپاڼو د وېش څانګه: ۰۷۰۸۲٤٥٦۰۰
برېښناليك : hewad1948@gmail.com
د دولتي ورځپاڼو ویبسایټ: www.dailies.gov.af  www.facebook.com/Hewad1948


## په کابل کې د پاکستان ســفارت افغانانو ته د وېزې د ورکړې شمېر معلوم کړ



ولســمشر لومړي مرســتيال امرالله صالح وايي، کابل کې د پاکستان ســفارت افغانانو ته د وېزې د ورکړې شــمېر معلوم کړی دی.ښــاغلي صالح ورمه ورځ فسبوک پاڼه ليکلي، چې د پاکستان سفارت په رسمي ډول په دې هکله د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ته معلومات ورکړې دي.د نومــوړي پر وينا د يوې اوونۍ په ترڅ کې به د پاکســتاني وېزې د غوښــتونکو امنيت، د پاســپورټونو د ټولولــو او د نوبت چارې تنظيم شي.ده ټينګار کړی، چې افغانان د وېزې د تر لاســه کولو لپاره تحقير او توهين نه شي او بايد أنساني کرامت ته يې زيان ونه رسېږي.امرالله صالح وايي: د همدې وېزو د کمېشــنکارانو له شــپږو کړيو څخه يو تن چې کلونه يې د پاکستان مفتې وېزې په ډېرې بې عزتۍ سره په خلکو پلــورلي، له دوی سره اړيکــه نيولې ،چې په دې اړه بــه ورته معلومات ورکوي.نومړي ويلي و، هغه کړۍ يې پېژندلې چې د پاکستان د وړيا ويــزو پر سر يې له خلکو څخه په لســګونه زره ډالر رشــوت اخيســتی دی.د ولســمشر د لومړي مرســتيال پر وينا په دې برخه کې به تر يوه وخته نور هم هېوادوال له ســتونزو سره مخ وي، خو ډېر ژر به ورته ښــه زيرى ورکړي.دا څرګندونې وروســته له دې کېږي چې د رواني عقرب مياشــتې په پنځمه امرالله صالح ويلي و، چې ډېر ژر به د پاکســتاني ويــزو کمېشــن کاران ونيــول شي او د قانــون منګولو ته به وســپارل شي.بايــد وويل ،چې څه موده وړاندې په جلال آباد کې د پاکســتاني ويــزو د ټوکنــو د وېش پر مهال په د زياتې ګڼې ګوڼې له امله تر شــلو زياتو کســانو ته مرګ ژوبله واوښــته چې ډېري يې د پوخ عمر لرونکې مېرمنې وې.

## پــه تېرو دوو اوونيو کې ۷ ميلياړده ۱۷۰ ميليونه افغانۍ ملي عوايد راټول شــوي




د ۱۳۹۹ مالي کال د لړم مياشــتې لــه لومړۍ نه تر ۱۵ مې نېټې پورې ۷ ميليارده ۱۷۰ ميليونه افغانۍ ملي عوايد راټول شــوي دي، چې له دې جملې ۳۹۴ ميليونه له مستوفيتونو، ۱ ميليارده ۱۸۶ ميليونه له مالياتي عوايدو، ۱ ميليارده ۷۵۷ ميليونه له غير مالياتي عوايدو او ۳ ميليارده ۸۳۱ ميليونه له ګمرکونو څخه تر لاسه شوي. د روان مالي کال له پيل څخه تر اوسه ۱۴۲ ميليارده ۶۸۵ ميليونه افغانۍ ملي عوايد راټول شــوي دي.همداشــان د ۱۳۹۹ مالي کال له پيل نه د لړم مياشــتې تر ۱۷ مې نېټې پورې ۱۰۰ ميليارده افغانۍ (۵۷.۶ســلنه) پراختيايي بوديجه او ۲۲۱ ميليــارده ۷۳۱ ميليونه افغانۍ (۷۳ســلنو) عادي بودجه لګول شــوې ، چې په ټوله کې د مــلي بوديجــې ۳۲۱ ميليارده ۷۳۱ ميليونه افغانۍ (۶۷ سلنه) جوړوي.

## په افغانستان کې د زعفرانو د کښت ساحه پراخه شوې

د افغانســتان د کرنــې، اوبو لګونــې او مالدارۍ وزارت وايي، چې ســږ کال پــه دې هېواد کې د زعفرانو د کښت ساحه زر هکتاره پراخه شوې او د ياد طبي بوټي حاصل ډېر شوی دی.د ياد وزارت ویاند اکبر رســتمي امريکا غږ ته ويلي، چې ســږ کال د افغانســتان په ټولو ولايتونو کې د زعفرانو بوټي کرل شــوي دي.ده زياته کــړه: (( تېره کال په افغانســتان کې پــر اووه زره هکتاره مځکې د زعفرانو بوټي کرل شــوي. سږ کال دغه کچه اته زرو ته لوړه شوې ده.))ښاغلي رستمي زياته کړه، چــې تېر کال افغانســتان ۲۰ مټريک تنه زعفران توليد کړي و، چې د ايران وروسته د زعفرانو دويم تر ټولو لوی توليد کوونکي هېواد و.د افغانستان د زعفرانو د ښــه کيفيت له امله د دغه طبي بوټي حاصل ته په نړيوالــو بازارونو کې تقاضا کال په کال په ډېرېدو ده ،خو د زعفران ســوداګر وايي چې له يو لړ ستونزو سره مخ دي.د زعفران کارانو د ملي ټولنې مشر او يو تن ســوداګر شــکور ايثار پــه دې اړه وايي: (( د زعفرانــو د کرنې په برخې کې اړين لابراتوارونه نشته، تر څو د حاصل کچه او کيفيت په اړه لازمې لاربنــوونې ترې ترلاســه شي.))ايثــار دا هــم وويل، بهرنيو هېــوادو کې د افغانســتان ســوداګريز اســتازي هم له دوی سره لازمې مرستې نه کوي.



## بهرني لنډخبرونه

### د کرونا د مثبتو پېښو شمېر له ۵۰ میلیونو واوښت



پــه نړۍ کــې په کرونا وبا د اخته کســانو شــمېر تر پنځوس ميليونو واوښــت.د جان هاپکنز پوهنتون د معلوماتو له مخې، د مثبتو پېښــو شمېر تر پنځوسو ميليونو اوښــتي او دغه وبا د چټکې پراختيا په حال کــې ده.نړيوال څېړنيز بنســټونه بيــا وايي، چې په اروپايــي هېوادونو کې د کرونا وبا دويمې څپې خورا ســتر ګواښــونه پېښ کړی او تر لومــړۍ هغې يې د پراختيا چټکتيا ډېره ده.همــدا راز ددغه وبا له امله د مړو شــويو شــمېر هم لــه ۱ ميليــون او ۲۵۰ زره کسانو اوښــتی دی.د روغتيا نړيوال سازمان يو ځل بيا هم پر هېوادونو غږ کړی ،چې د دوی سپارښــتنو ته جدي پاملرنه وکړي او په دې توګه خپل وګړي له دې وژونکې وبا وژغوري.

### ادم ارلي: د ټرمپ د زنداني کېدو احتمال ډېر دی



د امريکا د بهرنيو چارو وزارت پخواني وياند ادم ارلي ويلي ،چې ښــايي ډونالډ ټرمپ زنداني شي.نومړي له العربيه تلوېزيوني شبکې سره په خبرو کې ويلي، ټرمپ ښــايي ډېر ژر د زندان ژونــد هم تجربه کړي، ځکه د نومړي په خبره، هغه تر ولســمشرۍ مخکې ډېــر جنايتونه کــړی ، لکــه جنسي ځورونــې او له مالياتو تېښــته.ارلي د خپلو خــبرو پر دوام ويلي، پر ټرمــپ تازه تور دا دی، چې د خپــل ټاکنيز کمپاين لپاره يې په ځانګړې شــوې بودجــه کې هم تغيرات راوســتي دي.نومــوړي څرګنــده کړې، کــه چېرته زنــداني نه شي، نو راتلونکي څلــور کلونه به د خپل ځــان د خلاصــون لپاره پــه محکمو کــې تېر کړي، ځکه د هغه په خبره، د ټرمپ کورنۍ هم له يو شمېر داســې تورونــو سره مخ ده چې ســپينول به يې ډېر وخت وغواړي

### آذربايجاني ځواکونو په نګورنو قره باغ کې د سوشي ښارګوټی نيولی



د آذربايجان ولســمشر الهام علييــف وايي: د هېواد ځواکونو يې په نګورنو قره باغ کې د شــوشي په نامه دويم ســتر ښــار نيولی دی.د ارمنســتان چارواکي وايي: په دې ښــارکې جګړه روانه ده.د علييف تردې څرګندونــو وروســته ډېر خلــک په باکو کــې راټول شــول او د شعارونو په ورکولو او د بيرغونو په ښورولو سره يــې دغه بريا ولمانځله.د علييــف تر دغه اعلام مخکې د روسيې ولســمشر ولاديمير پوتين له خپلو ســيالانو، د ترکيې او د فرانســې له ولسمشرانو سره د نګورنــو قــره باغ د لانجــې په اړه خــبرې وکړې او پوتين او ايمانويل مکرون په ســيمه کې د ارمن ټبرو او د آذربايجــان د ځواکونو ترمنځ د پراخو شــخړو په اړه جدي اندېښــنه ښــکاره کړه.نګورنوقــره باغ چې نړيــوال يــې د آذربايجان د خاورې يــوه برخه بولي، پــه کې مېشــت اکثريت ارمــن ټبري يــې خپلواکه سيمه بولي.

### په لغمان کې د طالب جګړه ماراڼو جنګي ډله وژل شوې



افغان ځواکونو وړمه بيګا په لغمان کې د طالب ترهګــرو پر پټنځــای بريد وکړ، چــې په نتيجه کــې يې د ترهګــرو پوره يو جنګــي ګروپ چې ۱۷ کسان ووژل شول.په لغمان کې د ځانګړو ځواکونو قوماندان وويل، چې دغه عمليات يې د دقيق کشــفي راپور په اســاس ترسره کړي، چې د طالب مزدورانو د وژل کېدو ترڅنګ يې د هغوی د وســلو او مهماتو يوه لويه ډيپو هم له منځه وړې. د لغــمان ځايي چارواکي وايي، په وژل شوو وسلوالو کې ۴ يې د لغمان او ننګرهار د جګړې مشران هم شــامل دي.دغه عمليات د لغمان ، علينګار ولســوالۍ په ميدانيو سيمه کې شوي، چې هېڅ کوم ملکي وګړی او افغان سرتير ته په کې زيان نه دي اوښتي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**